دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ


۰۸ جنوری ۲۰۱۸


## السَّوادُ الاعظم

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

### سریزه

اوسنی کتاب ددری ژبی یو له هغوپخوانیو ځلورو-پنځو کتابونو څخه دی چی مخکی ندی خپورشوی اودبلخ دسامانیانو په دوره پوری تړاولری، اود دری ژبی یو ارجمند اوپخوانی نثر بلل کیږی.

داکتاب دموضوع له مخی ، دینی اومذهبی دی اومحتویات یی هم په هغی خاصی فکری اوعقیدتی دوری پوری تړاو لری چی په ځلورمه هجری پیری کی په خراسان کی منځ ته راغلی وه.

څرنګه چی دولسونو اوملتونوپه عقلی سیر(حرکت) کی لیدل کیږی، په لومړنیو مرحلو کی دین تل دعقیدی او ایمان له لاری مخکی ځی، چی عقلیت ته پکی ډیر ځای نه لیدل کیږی.

په دی دوره کی دینی احکام اوروایات، په ایمان او ارادت سره په ډکو زړونو سره منل کیږی، اودهمدی عقیدی په رڼا کی دی چی هردین په لومړیو مرحلو کی د عقیدی په بنسټ پرمخ تللی. اودایمان لرونکو باورمندانو لخوا ددین تبلیغ شوی دی.

ترڅوچی له یوی مودی وروسته دعقلیت اوشکوکو دوره راغلی اونوری فرقی اوراییی اوافکاردعقل له لاری ور ننه شوی، اودعلم کلام په خیر دعلومو درامنځ ته کیدو سبب ګرځیدلی.

داکتاب چی تاسو لولی، دهغی عقلی دوری محصول دی، چی دخراسان خلک تردی دمه دایمان اوعقیدت په دوره کی و او د تفلسف اوتعقل دوره لا نه وه پیل شوی.

دالسواد الاعظم کتاب دحنیفی مذهب دائمه و یو له پخوانیو آثارو څخه دی، چی ددی مذهب دعلماو دلاربنود ، ابوالقاسم اسحق بن محمد بن اسماعیل، مشهور په حکیم سمرقندی(رحمة الله علیه) پواسطه په ۲۹۰ هجری کال کی په عربی لیکل شوی.

حکیم سمرقندی دسمرقند قاضی و اود ابو منصور ماتریدی رحمه الله دپیروانو اومتکلمانو له ډلی څخه و چی په ۳۴۲ هجری کی یی له نړی سترګی پټی کړی.

ددی کتاب لیکوال امام سمرقندی یوازی دحنیفیه مذهب په دینی او مذهبی روایاتوپه تکیی سره غواړی خلک دعقیدی او ایمان په تلقین سره ددی مذهب له مبادیو سره آشنا کړی.

اوسنی کتاب له دوو اړخو څخه ارزښت لرونکی دی: یودهغی ادبی ارزښت دی، چی ددری ژبی ډیرپخوانی نثردی اوله زرو کلونو څخه زیاد قدامت لری. اوبل هم دکتاب فکری اوتاریخی ارزښت دی، چی څیړونکو اولیکوالانو ته په کاریږی. اوهغوی چی ددی سیمی دفکر اوعقائدو، عقلی اوروحی وضعیت په څیړولو پسی دی، ورته پکاریږی. داسی چی ددی عصر خلک او د حنیفی مذهب پیروانو دعقیدی اوایمان اواسلامی روایاتو په هکله څرنګه فکردرلود اوددوی فکری لاری له کومو منابعو څخه سرچینه اخیستله. اونوری فرقی په کوم آند وی اوپه کومو نومونو بلل کیدی؟ داسلامی عقایدو اوفرقوپه پیداینت کی بیل عوامل لکه سیاسی، اقتصادی، فکری، دینی اوتاریخی اغیزمن دی، چی یو څیړونکی دهغی دوری داثارو په لوستلو سره دهغی سره آشنا کیږی.

اوسنی کتاب چی ددری ژبی یوپخوانی اوښکلی نثردی یوه نخسه په کندهار کی زما لاس ته راغله اوپه لومړی ځل می په ۱۳۴۲شمسی کال کی هغه د(یغما) په درنده مجله کی خپره کړه اودپاملرنی وړ وګرځیده.

په ۱۳۴۷ شمسی کال کی می داکتاب دبنیاد فرهنګ ایران عامل مدیرښاغلی دوکتورپرویز ناتل خانلری ته مکاتبه کړ اوهغه هم دچاپ اوخپریدو وعده وکره.

هیله لرم چی زما دغه ناچیزه چوپرفرهنګی موارثوته ، دانشمندانو او ددی فرهنګ مینه والو ته دمنلووړ وګرځی.

کابل جمال مینه، د۱۳۴۷ کال دقوس لومړی

عبدالحیی حبیبی.

بِسْمِ اللهِ الرّحْمنِ الرّحِیْمِ

رَبِّ یَسِروَلَاتُعَسِروَتَمِمْ بِالْخَیْرتَوَکَلْتُ عَلَی اللهِ الْحَیِ الَّذِی لَایَمُوتُ اَبَداً!

نوپوه شه چی ددی کتاب دتصنیف(لیکنی) سبب داوو، چه په سمرقند اوبخارا اوماوراء النهرکی بی لاری مبتدعان اوهوا داران ډیرشول.

نوځکه دسمرقند اوبخارا اوماوراءالنهر ائمه او فقها اوعالمان سره راټول شول او وویل: زمونږ پلرونه اونیکونه دسنت اوجماعت په طریقه کی و.اوس بیلابیلی هواوی( هیلی) پیداشوی. اومونږ ته دا د ډار ځای دی، داخبره مو دخراسان امیر ته ورسوله.

عادل امیر اسماعیل ،عبدالله بن ابی جعفراو نورو فقها وته وفرمایل چی بیان کړی هغه رینتینی مذهب اودسنت اوجماعت طریقه(لاره) چی زمونږپلرونه په هغی روان و.

نوځکه ائمه او امیر، خواجه ابوالقاسم سمرقندی ته اشاره وکړه اوورته یی وویل: مونږ ته دسنت اوجماعت نیغه لاره چی پیغمبرعلیه السلام په هغی و، را پیداکړه. اوویی فرمایل: ترڅودغه کتاب په تازی ژبه سره تصنیف شی. اوچی امیر ته یی راوړ، ټولو هغه وستایه اوخوښ یی کړ اوویل : دسنت اوجماعت لاره همدا ده.

بیانو دخراسان امیر وفرمایل: چی داکتاب پارسی ته واړول شی، ترڅوچی دخواصو ترڅنګ عوام هم له هغی ګټه پورته کړی،اومذهب نیک وګنی اودهوا اوبدعت څخه لیری اوسی.

اوعلی ابن السُّغدی رحمّه الله مونږ ته داسی حدیث وکړ، وویل چی مونږ ته ابومحمد ابن عبدالله ابن العباس المروزی مشتعل خواجه امام زاهد ابوالقاسم حکیم سمرقندی رحمة الله علیه وویل:

**وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالمِینَ العَظِیم، وَالحَمدُ لِلّٰهِ الْمَلِکِ الْقَوِیمِ الرَحِیم، اَلْاَوَّلِ الْقَدِیم، خَالِقِ الْاَرضِ وَالسّموات وَهُوَ السّمِیعُ الْعَلِیم. وَالْحَمدُ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَارِ الْعَزِیزِ الْجَبَارِ الحَکِیمِ الْغَفَارِ الْکَبِیرِالْمُتَعَالِ ذِی الْعِزَةِ وَالْجَلَالِ. اَلْحَمدُ لِلّٰهِ الَّذِی هَدَانَا لِلْاِسْلَامِ وَعَلَّمنَا الْقُرآنَ وَالْبَیَان وَمَنَّ عَلَینَا بِنَبِیَّنَا مُحَمَّدٍ صِلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ**

نوداسی یی وویل: تاسو ته داسی  وصیت کوم چی ځانونه دخدای عزّوجلّ څخه په ویری، د هغی داوامرو په ترسره کولو اودنواهیو څخه په پرهیزکولو اودخدای عزّوجلّ دحکم پروړاندی په صبرکولو اودده په قضا باندی رضا ښکاره کول اوپه نعمتونو یی شکرایستل اودمرګ حق ګڼلو باندی روږدی کړی.

او وګوره! ترڅو دخدای تعالی پرحکم ګرانی(زړه تنګوالی) ونکړی! اوپرمخلوق یی کبر ونکړی! ځکه دعلماو اوفقهاو داجماع پر بنسټ، دبنده ګی دوه خصلته دی:

یوداسی کار وکړی چی دهغی خوښ وی، اوبل هغه خوښ کړی چی هغه یی کوی. اوداهم په ځلورو خصلتونو سره دی: یوداچی خپل سِر داسی وساتی، چی که خلکو ته ځرګندشی نو روا یی وبولی!دوهم داچی خپل علانیت داسی وساتی چی دسنتو مطابق وی، داسی چی که چیری درسول الله صلی الله علیه وسلم ټول امت په تاپسی اقتداء وکړی، روا وبولی. دریم داسی چی دټولو مومنانو اومسلمانانو سره داسی صحبت وکړی اومعامله وکړی، که چیری دوی له تاسره همداسی معامله وکړی ، روا وبولی.

ځلورم: خپل حال داسی وساتی چی که په همدی حال کی ملک الموت درڅخه روح واخلی، روا وبولی.

پس ای مومنه! له خدایه وویریږه! خپل دین وساته! ځکه دخلکو ترمنځ هواداران ډیر شوی دی.او امانتونه لیری شوی اوهرڅوک په خپله هوا باندی مشغوله دی.

پس باید چی ناسته اوولاړه مو دحق له اهل سره وی! اودبدعت له اهل څخه لیری اوسی! اوداهل سنت اوجماعت لاره وساتی، که غواړی چی وژغورل شی!

اوپرتا لازمه ده چی داځلورخصلته وساتی!

یو: ژبه له دروغو او غیبت څخه وساتی. اوحلق له حرامو اوشبه وڅخه وساتی. اوخپل کړه لکه لمونځ ، روژه ، حج اوصدقه او عرفه اونور ورته کړه له ریا اوسمعت څخه وساتی. اوخپل مذهب وساتی له هواداراتو او بدعت څخه. اوله هواداراتو سره ناسته ونکړی! اوله دوی سره خبری ونکړی! اوترڅووکولای شی په هغوی پسی لمونځ ونکړی، ځکه دهوا دارانو ځای دوزخ دی. اوددوی په خبرو ونه غولیږی. ځکه چی حق تعالی لومړی دین غواړی اوبیا کردار او اعمال.

اوپوه شه چی: پاک دین هغه دی: چی وګوری چی خدای تعالی څه فرمایلی؟ اورسول صلی الله علیه وسلم څه فرمایلی؟ اوراشیدینو خلفاو( ابوبکر وعمر وعثمان وعلی رضی الله عنهم اجمعین) په کوم سیرت ولاړ و؟ اوتابعین اوتبع تابعین په کوم سیرت و؟ اوخلکو ته یی په څه امر فرمایلی؟

ته ددوی لاره غوره کړه! اوله انده تیر نشی! اوله هواو اوبدعتونو څخه لیری اوسی! اوخپل مال داهل بدعت له ماله څخه بیل کړای شی.

نوڅکه می داکتاب په فارسی کی جمع کړ. ځکه چی دا دخراسان دامیر نوح ابن منصور(رح) غوښتنه وه، چی کله یی دماوراء النهرټول عالمان راټول کړل، ترڅو درسول صلی الله علیه وسلم اودده دیارانو اوراشیدینو خلفاو(رضوان الله علیهم اجمعین) سمه لاره اوسیرت پیداکړی.

اودا دسنت اوجماعت مذهب اودهغو علماو مذهب دی چی دسنت اوجماعت اهل دی. او دا مذهب داامامانو دامام او دفقهاو دسید اوددین اوعلم دلاربنود اودفقهی دشاهنشاه حضرت ابو حنیفه نعمان ابن ثابت ابن طاوس ابن هرمز ابن کسری مذهب دی، چی دی اواصحاب یی پرهمدی مذهب و. او ټول اهل سنت اوجماعت پرهمدی مذهب دی.

ځکه چی حق تعالی فرمایلی: اِنَّ هَذَآ صِراطِی مُستَقِیماً فَاتَّبِعوُهُ وَلَاتَتَّبِعُوا لسُبُل. وویل : چی سمه اومستقیمه لاره همدا ده، دهغی متابع اوسی او وګوری چی دنورو طریقو متابع ونه اوسی.

اورسول صلی الله علیه وسلم وویل: عَلَیکُم بِاالسّوادِ الْاَعْظَمِ. قِیلَ یا رَسوُل الله! مَاالسّواد الْاَعظم؟ قَالَ الّذِی اَنَا عَلَیهِ وَاَصحَابِی.

ویی فرمایل چی پرتاسو سواد الاعظم لازم دی. وویل: یارسول الله ! سواد اعظم څه دی؟ وویل: سواد اعظم هغه دی: چی نن زه او زما یاران په هغی روان دی.

نورسول صلی الله علیه وسلم له دی کبله وویل: چی هغه پوه و چی له ده وروسته به هواداران اوبدعتونه راڅرګند شی.

نوڅکه ددی کتاب زده کول فریضه ده اوله هغی مخ اړول اودهغی خلاف عمل کول بدعت دی.

نوڅکه باید چی داکتاب تعویذ کړی او په غاړه یی کړی! او اولادونو او اهل بیت ته یی ورزده کړی! ځکه چی ستا اوستا داهل بیت ژغورنه ددی کتاب په زده کړه کی ده.